# د مسلمان عِزَّت او کړئ

## 02-June-2022



هفته وار د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

2 جون 2022ء د پاكستان په هفته وار اجتماع كښې كيدونكے بيان

# د مسلمان عِزَّت اوكړئ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (**ترجمه:** ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

د الله پاك د آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: چاته چې څه حاجت پيښ شي، هغه دې په ما باندې په كثرت سره دُرُود شريف اولولي ځكه چې دُرُودِ پاك پريشاني، درد او مصيبتونه لرې كوي او په رزق كښې زياتوالے كوي.[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ (يعني) رښتينے نِيَّت



[1]...بُستَانُ الواعِظين، صفحه: 241۔

www.dawateislami.net

د ټولو نه افضل عمل دے.[1]

اے عاشقانِ رسول! د هر کار نه مخکښې د ښه ښه نیتونو کولو عادت جوړ کړئ چې ښه نیت بنده جنت ته بوځي- د بیان اوریدلو نه مخکښې ښه ښه نِیَّتونه اوکړئ: مثلاً نِیَّت اوکړئ چې ❀ د علمِ دین زده کولو د پاره به پوره بیان اورم ❀ په ادب به کښینم ❀ د خپلې اصلاح د پاره به بیان اورم ❀ چې څه واورم هغه به نورو ته د رسولو کوشش کووم-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خادر عطا کړو

حضرت جریر بن عبدُ الله بَجَلِي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ صحابیٔ رسول دے، هغوئي په 10 سن هجرئ رَمَضَانُ المُبارَك کښې اسلام قبول کړو، ډیر حسِین او جمیل او ښائسته وو، حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: جَرِيْرُ يُوسُفُ هٰذِهِ الْاُمَّةِ حضرت جریر بن عبدُ الله رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د دې اُمَّت یُوسُف دے.[2]

یو ځل سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خپله حجره مبارکه کښې



[1]...جامع صغیر، صفحه:81، حدیث:1284۔

[2]...اُسْدُ الْغابة، جلد:1، صفحه:529۔

تشريف فرما وو، صحابۀ کرام عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوان حاضر شو، تر دې پورې چې حجره مبارکه ډکه شوه د نورو ګسانو د کښيناستلو ځائ پکښې پاتې نه شو، حضرت جرير بِن عبدُ الله رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ هم راغلو، ځائ خو نه وو، ځکه هغوئي په دروازه کښې کښيناستلو، خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې اوليدلو نو خپل څادر مبارك ئې راغونډ کړو او هغوئي طرفته ئې ورغوزار کړو او اوئې فرمائيل: جريرا دا څادر خور کړه په دې باندې کښينه...!

اَللّٰهُ اَکۡبَرۡ! د سرورِ انبياء، محبوبِ خُدا صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له طرفه داسې عِزَّت کول معمولي خبره نه ده، اوس د صحابۍ رسول ادب او عشقِ رسول اوګورئ! هغوئي څادر مبارك زمکې ته پرې نښودو، او څادر مبارك ئې په لاسو کښې اونيولو، ښکل ئې کړو او په سترګو ئې اولګولو او بے اختياره په ژړا شو، په ژړا ژړا کښې ئې عرض اوکړو: يَا رَسُولَ اللّٰه صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! تاسو ماته عِزَّت راکړو، الله پاك دې ستاسو عِزَّتونه نور زيات کړي، زما دا مجال نشته چې زه ستاسو په مبارك څادر باندې کښينم، د دې وينا سره هغوئي څادر مبارك د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې وړاندې کړو.

په دې باندې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اِذَا اَتَاكُمْ كَرِيْمُ قَوْمٍ فَاَكْرِمُوْهُ يعني كله چې ستاسو خوا ته د قوم عِزَّت دار كس راشي نو د هغه عِزَّت اوكړئ! [1]

اے عاشقانِ رسول! قربان شم! د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ښكلو ښكلو اداګانو باندې...!! د دواړو جهانو سردار دے، الله پاك د خپل محبوبِيَّت تاج ورته عطا كړے دے، د انبيائے كرامو اِمام ئې جوړ كړے دے، دومره اعلىٰ او اوچت مقام كيدلو باوُجود مبارك انداز اوګورئ! څومره ښكلي شان والا دے، يو غلام حاضريږي او سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي ته خپل څادر وركوي. سُبْحٰنَ اللّٰه!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## هر مسلمان عِزَّت داره دے

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! الله پاك مسلمان ته عِزَّت وركړے دے، كه څوك غريب دے، مالداره دے، سپين دے كه تور دے، هر هغه كس د چا په زړه كښې چې د اِيمان نُور موجود دے، د هغه په سر د عِزَّت تاج دے، الله پاك په قرآنِ كريم كښې ارشاد فرمائي:

[1]...مكارم الاخلاق، صفحه:60تا61، حديث:71۔



www.dawateislami.net

| | |
|---|---|
| وَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُوْلِهٖ وَلِلْمُؤْمِنِیْنَ (پارہ:28،سورۂ منٰفقون:8) | [مفهوم]ترجمۂ کَنْزُالایمان: او عِزَّت خو د الله او د هغه د رسول او د مسلمانانو د پاره دے. |

په دې آيتِ كريمه كښې ئې صفا صفا اوفرمائيل چې عِزَّت د الله رَبُّ الْعِزَّت دے، د هغه په عطا سره د هغه محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عِزَّتونو والا دے او د محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بركت د هغوئي هر يو غلام عِزَّت والا دے. په تفسير صراطُ الجنان كښې دي: د دې آيت نه ځلور مسئلے معلومې شوے: **(1)** هر مُومِن عِزَّت والا دے، يو مسلمان قوم ذليل ګنړل يا هغه ته رذيل وئيل حرام دي **(2)** د مومِن عِزَّت د اِيمان او د نيكو عملونو سره دے، په روپو پيسو سره نه دے **(3)** د مومِن عِزَّت دائمي دے، ختميدونكے نه دے، په دې وجه د مُومِن د مړي او د قبر هم عِزَّت كيږي **(4)** څوك چې مُومِن ذليله ګنړي، هغه د الله پاك په نِزد ذليله دے، بنده كه غريب يا مسكين وي خو چې مسلمان وي نو عِزَّت والا دے، كه يو كس هر څومره مالداره وي خو چې كافر وي نو عِزَّت والا نه دے بلكه د ځناورو نه هم بدتر دے.[1]



[1]...تفسیر صراط الجنان، پارہ:28، سورۂ منٰفقون، تحت الآیۃ:8، جلد:10، صفحہ:169۔

www.dawateislami.net

## د مسلمان د لاړو هم عِزَّت دے

په بهارِ شريعت کښې يوه مسئله ليکلے شوې ده، د هغې خلاصه دا ده چې مسواك کوم چې مسلمان استعمال کړے وي، کله چې هغه مِسواك د استعمال قابِل پاتې نه شي (مثلاً ډير وړوکے شوے وي چې نيولے کيږي نه) نو دا مسواك دې دفن (ښخ) کړے شي يا په يو محفوظ ځائ کښې دې کيښودے شي، دا استعمال شوے مسواك غورځول ټيك نه دي.

آخر د دې څه وجه ده؟ حکمت څه دے چې د مسواك دومره ادب ضروري دے؟ مفتي امجد علي اعظمي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د دې دوه حکمتونه ليکلي دي: **(1)** مسواك د سُنَّت ادا کولو آله ده (يعني دا وړوکے شان لرګے کوم ته چې مسواك وائي، د دې لرګي د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يو مبارك عمل سره نِسبَت اوشو، يو مسلمان بنده د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت ادا کولو د پاره دا لرګے استعمال کړے دے، ځکه د لرګي دا ټوټه د سُنَّتِ مُصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د نِسبَت په وجه د احترام قابِله ده.) **(2)** دويم حکمت دا دے چې د مسلمان د خُلے لاړې پاکې دي، او مسواك مسلمان استعمال کړے دے، ځکه د مسلمان لاړې کومې چې د دې مسواك سره لګيدلې دي، د هغې ادب کولو سره دې مسواك دفن (ښخ) کړے شي يا دې په يو محفوظ ځائ کښې کيښودے شي چې د مسلمان د لاړو بے

حرمتي اونشي. مفتـي امجد علـي اعظمـي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه نور فرمائي: علماء فرمائي: په بيتُ الخلا (يعني واش روم) کښې (لاړې) تُوکَل منع دي، ولے منع دي؟ ځکه چې د مسلمان لاړې پاکې دي، په بيتُ الخلا کښې دا پاکې لاړې تُوکَل مناسب نه دي.[1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اندازه اولګوئ! د يو مسواك چې د الله پاك د آخري نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره نه بلکه صرف د هغوئي (صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د يو سُنَّت سره نِسبَت اوشو نو د هغې عِزَّت اوشو نو هغه انسان د چا چې د عِزَّت داره نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د اِيمان رشته ده، د هغه به څومره عِزَّت وي...؟ بيا دا هم غور اوکړئ! چې د مسلمان د خُلے د لاړو دومره عِزَّت دے چې په ناپاکه ځائ کښې لاړې تُوکَلو نه علماؤ منع فرمائيلې ده نو لږ سوچ اوکړئ! پخپله به د مسلمان خپل عِزَّت څومره وي...؟

## د مسلمان عِزَّت

په اِبنِ ماجه شريف کښې دي، سَيِّدُ الانبياء صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کعبې شريفې ته مخاطب شو او اوئې فرمائيل: اے کعبې! ته څومره پاکه ئې! ستا خوشبو څومره صفا ده! ته څومره عظيمه ئې! ستا عِزَّت څومره اوچت دے!



[1]...بهارِ شريعت، جلد:1، صفحه:294، حصه:2 خلاصةً۔

په هغه ذات مې دې قَسَم وي د چا په قبضه کښې چې د محمد (صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ځان دے، بے شکه د يو مُومِن عِزَّت د الله پاك په بارګاه کښې ستا د عِزَّت نه زيات دے.[1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! غور اوکړئ! الله پاك مسلمان ته څومره عِزَّتونه ورکړي دي، يقيناً د درجاتو په اعتبار سره په عِزَّتونو کښې کمے زياتے شته دے، د يو وَلِـيُّ الله او د عام مُومِن عِزَّت برابر نه دے، دغه شان د عُلماؤ عِزَّت د عوامو د عِزَّت نه زيات دے خو عِزَّت د ټولو دے، د چا په زړه کښې چې د اِيمان نُور موجود دے، د هغه په سر باندې د عِزَّت تاج موجود دے، په دې وجه مونږ له پکار دي چې د هر مسلمان عِزَّت اوکړو، د هغه د حُرمت خيال اوساتو. د الله پاك خوږ او آخري نبـي، محمد عربـي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: کوم بنده چې د خپل مسلمان ورور (عِزَّت کولو سره د هغه) د اَس واګے اونيسي، د هغه دا عمل د څه لالچ په وجه نه وي، د څه ويرې په وجه نه وي (بلکه خالص د الله پاك د رضا د پاره وي) نو الله پاك به د دې واګے نيوونکي بخښنه اوفرمائي.[2]

پخوا به په اَسونو سفر کيدلو نو د عِزَّت ورکولو دا طريقه وه چې يو کس به د اَس واګے اونيولے چې (په اَس وغيره) سوَريدونکے په آسانئ سره

323

[1]...ابن ماجه، کتاب الفتن، صفحه:633، حديث:3932۔

[2]...معجم الاوسط، جلد:1، صفحه:287، حديث:1012۔

سور شي، دغه شان که څوك به په اَس سور راغلو نو (بل کَس) به ورمخکښې شو او د اَس واګې به ئې اونیولې چې سور کس په آرام سره کوز شي. په نن دور کښې به د دې مِثال داسې جوړ شي چې مَثَلاً یو کس په موټر سائیکل راشي، دویم کس ورمخکښې شي او موټر سائیکل اونیسي چې راکړه! زه ئې اودرووم، د دې عمل سره د هغه څه لالچ نه وي چې مَثَلاً مالك دے، سیټھ دے، نګران صاحب دے، زه به د ده عِزَّت اوکړم نو زما به ښه خیال ساتي، نه څه ویره وي چې سیټھ صاحب یا نګران صاحب راغلو، که ورمخکښې نه شې او موټرسائیکل اونه نیسې نو قهر به شي، یا به ترې خفه شي، داسې څه مُعامَله نه وي، نه لالچ وي، نه ویره وي بلکه خالص د الله پاك د رِضا د پاره د خپل مسلمان ورور عِزَّت کوي نو د دې په برکت به الله پاك دا عِزَّت کوونکے اوبخښي.

سُبْحٰنَ اللّٰه! الله پاك دې مونږ ته د نورو د عِزَّت کولو توفیق را نصیب کړي. اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د مسلمان عِزَّت په بل مسلمان باندې حرام دے

د الله پاك خوږ او آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ دَمُهٗ وَمَالُهٗ وَعِرْضُهٗ یعني د هر مسلمان وینه،

مال او عِزَّت په بل مسلمان باندې حرام دے.[1]

**حكيمُ الاُمَّت** حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاك په شرح كښې ليكي: يو مسلمان دې د بل مسلمان مال د هغه د اِجازت نه بغير نه اخلي، نه دې د چا بے عِزَّتي كوي، يو مسلمان دې په ناحقه او ظلم نه وژني، چې دا ټول سخت جُرمونه دي.[2]

مفتي صاحب په يو بل ځائ كښې ليكي: مسلمان خو نه په زړه كښې سپك اوګڼړئ! نه ئې په سپكو ټكو را اوبلئ! نه ئې په ناكاره (غلطو) نومونو ياد كړئ! نه ور پورې اوخاندئ! نن په مونږه كښې دا عيبونه ډير دي، د پيشے، نسبونو، يا غريبئ او تنګدستئ په وجه مسلمان ورور حقير (كمتر، سپک) ګڼړو چې هغه پنجابے دے، هغه بنګالے دے، هغه سندهے دے، هغه پښتون دے، اسلام دا ټول فرق ختم كړے دے، د شاتو مچئ د مختلفو ګلونو نه رس اخلي نو د هغې نوم شات جوړيږي. داسې چې كله مونږه د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لمَن مباركه اونيوله نو ټول مسلمانان يو شو، حبشي وي او كه رُومي.[3]

| | |
|---|---|
| دامنِ مصطفٰے سے جو لپٹا یگانہ ہو گیا | جس کے حضور ہو گئے اس کا زمانہ ہو گیا |



[1]...مسلم، كتاب البر والصلة، صفحه:1386، حديث:2564۔
[2]...مرآة المناجيح، جلد:6، صفحه:553۔
[3]...مرآة المناجيح، جلد:6، صفحه:552ملتقطاً۔

www.dawateislami.net

# د مسلمان بے عِزَّتي حرامه ده

د حَجَّةُ الوَدَاع موقع وه، خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مِنٰى شريف کښې خطبه اوفرمائيله، په دې خطبه کښې خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابهٔ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان ته مُخاطَب شو او اوئې فرمائيل: اَىُّ شَهۡرٍ هٰذَا؟ دا کومه مياشت ده؟ (ښکاره خبره وه، د حج موقع ده او حج په ذُوالحجةِ الحرام کښې ادا کيږي خو د صحابهٔ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان ادب اوګورئ!) د صحابهٔ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان ګمان شو چې کيدے شي خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې مياشتې نوم بدلوونکے دے، نو عرض ئې اوکړو: اَللّٰهُ وَرَسُوۡلُهٗ اَعۡلَم الله او د هغه رسول (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ښه پوهيږي. خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اَلَيۡسَ ذُوالۡحِجَّةِ؟ آيا دا د ذُوالحج مياشت نه ده؟ صحابهٔ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان عرض اوکړو: ولے نه (يعني آو جي! دا د ذُوالحج مياشت ده). رَسُولِ اَکرَم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دويم سوال اوکړو: اَىُّ بَلَدٍ هٰذَا؟ دا کوم ښار دے؟ (دا هم ښکاره خبره وه چې حج په مکه مکرَّمه کښې ادا کيږي خو د صحابهٔ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان په دې ځل هم ادب اوګورئ!) عرض ئې اوکړو: اَللّٰهُ وَرَسُوۡلُهٗ اَعۡلَم الله او د هغه رسول (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ښه پوهيږي. خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اَلَيۡسَ الۡبَلۡدَةَ؟ آيا دا بَلۡدَه (يعني مکه مکرمه) نه ده؟ ټولو عرض اوکړو: ولے نه (بالکل دا مکه مکرمه ده). رَسُولِ اکرَم

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اَىُّ يَوْمٍ هٰذَا؟ دا كومه ورځ ده؟ صحابۀ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان په ډېر ادب سره عرض اوكړو: اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَم الله او د هغه رسول ښه پوهيږي. خوږ آقا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اَلَيْسَ يَوْمَ النَّحْرِ؟ آيا دا يوم نحر نه دہ؟ ټولو عرض اوكړو: ولے نه (دا يومُ النحر يعني بالكل دا د قربانئ ورځ ده).

بيا رسولِ اكرَم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: بے شكه څنګه چې د دې ورځې، د دې ښار او د دې مياشتې حُرمت او عِزَّت دے، ستاسو وينه، ستاسو مال او ستاسو عِزَّتونه هم داسې په يو بل باندې حرام دي.[1]

**حكيمُ الاُمَّت** حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاك په شرح كښې ليكي: څنګه چې په حدودِ حرم كښې يوه نيكي په يو لاك ده، دغسې يوه ګناه هم په يو لاك ده[يعني د يوے ګناه سزا د يو لاك ګناه برابره ده]، په دې وجه حُضُور اوفرمائيل: څنګه چې د دې ځائ ګناه د نورو ځايونو د ګناه نه ډېره سخته ده، داسې د مسلمان وينه [Blood]، مال، عِزَّت، په ظلم سره بربادول سخت دي.[2]

| خدايا! كسى كانه دل ميں دكهاؤں | اَماں تيرے اَبَدى عذابوں سے پاؤں |
|---|---|



[1]…بخارى، كتاب المغازى، باب حجة الوداع، صفحه:1092، حديث:4406ملتقطاً۔

[2]…مرآة المناجيح، جلد:4، صفحه:173۔

www.dawateislami.net

## مسلمان ته تکليف رَسَول سخته ګناه ده

مفتـي صاحب په يو ځاېٔ کښې فرمائي: يعني څنګه چې د ذُوالحجې مياشت کښې خاص طور د عرفې په ورځ، د حرم شريف په زمکه ګناه کول ډير بد جرم دے چې دا د دريو جرمونو مجموعه ده: **(1)** د ګناه جرم **(2)** د محترم ځاېٔ د بےحرمتۍ دويم جرم **(3)** د حرمت د تاريخ او د حرمت د مياشتې د بے ادبۍ دريم جُرم، داسې د مسلمان وينه بَهيَوَل، مال لوټ کول (او عِزَّت بربادول) د ډيرو جُرمونو مجموعه ده چې دا ظُلم دے د الله پاك د ناراضۍ سبب هم دے، او د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تکليف سبب هم دے.[1] چې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: مَنْ اٰذٰى مُسْلِمًا فَقَدْ اٰذٰنِىْ چا چې مسلمان ته تکليف اُورسولو، هغه ماته تکليف را اورسولو.[2]

ہمیشہ ہاتھ بھلائی کے واسطے اٹھیں | بچانا ظلم و ستم سے مجھے سدا یارَبّ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مسلمان د بے عِزَّتۍ يو څو مثالونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! هائے افسوس! اوس زمونږ په مُعاشره



[1]...مرآة المناجيح، جلد:4، صفحه:115 بتغير قليل۔

[2]...معجم اوسط، جلد:2، صفحه:387، حديث:3607۔

کښې د نورو عِزَّت بربادول ډیر معمولي خیال ګڼړلے کیږي ❁ کله د مذاق په بنیاد نور ذلیله کیږي ❁ څوك په نورو پسې خرابے خبرې کوي او عِزَّتِ نفس ئې خرابوي ❁ د چا غریبي د پیغور او ملامتیا نخښه ګرځولے شي ❁ د چا ذات کمتر ګڼړلو سره په مُعاشره کښې ذلیله کولے شي❁ د چا چې صرف لونړه وي ځامن ئې نه وي، هغه ته پیغور ورکړے کیږي ❁ سیټھـ د نورو په ذلیله کولو نه شرمیږي، د ټولو په مخکښې هغه بے عِزَّته کوي❁ که صدقه او خیرات کول وي نو بعضې مالداران د ځان ښودلو په چکر کښې د غریبانو سره تصویران اوباسي او تش په نوم د خپل سخاوت ښودنه کوي او د غریبانانو د عِزَّتِ نفس سره لوبے کوي ❁ د واده خوشحالئ په موقعو غریبانان خپلوان ذلیله کولے شي بلکه اوس خو د وَن کلك (*Click One*) فارمولا هم راغلې ده، خلق د خندا مذاق (یعنې *Prank*) په نوم د نورو مذاق کوي او په سوشل میډیا باندې ئې خوروي او د لکونو کروړونو خلقو په مخ کښې د بے وسه عِزَّت بربادوي.

## د سود نه غټه ګناه

حُضُور نبـئ پاك، صاحبِ لولاك صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان نه تپوس اوکړو: آیا تاسو ته پته ده چې د اللّٰه پاك په نِزد د سُود نه غټه ګناه کومه ده؟ صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان عرض اوکړو: اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَم

يعني د الله پاك او د هغه رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښه پوهيږي. نو خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: بے شکه د الله پاك په نِزد د سود نه غټه ګناه د مسلمان عِزّت حلال ګنړل دي.[1]

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد**

**اے عاشِقانِ رسول!** کله چې الله پاك، د هغه خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مسلمان ته داسې عِزّتونه ورکړي دي نو په مونږه باندې لازم دي چې مونږه د نورو عِزّت اوکړو، د هغوئي تعظيم او ادب اوکړو، او په يو صورت کښې هم د نورو عِزّتِ نفس خراب نه کړو. راځئ! په دې ضِمن کښې د قرآنِ کريم يو څو تعليمات اورو او هغه د خپل کردار د حِصّې جوړولو کوشش اوکړو.

## په سورۀ حُجُرات کښې د اجتماعي ژوند آداب

سورۀ حُجُرات د شپږ ويشتمې سيپارې يو مختصر سُورت دے، صرف د دوو رکوع او اتلسو آيتونو دې مختصر سورت کښې ډير تعليمات بيان شوي دي، خاص طور مسلمانانو ته د اجتماعي (يعني په خپل مينځ کښې د اوسيدلو د) ژوند آداب ښودلے شوي دي، يعني مونږ له د خپلو مسلمانانو



[1]...شُعب الايمان، باب فی تحريم اعراض الناس، جلد:5، صفحه:298، حديث:6711۔

ورونړو سره ښنګه رَوِيّه ساتل دي، زمونږه مور او پلار وي که خوئيندې ورونړه، ګاونډيان وي که د محلے خلق، د لرې خپل وي که بالکل نا اشنا وي، غرض هر هغه کس ښوک چې مسلمان دے، که د دُنيا په هر يو ګوَټ کښې اوسي، کله چې هم زمونږه د هغه سره ملاقات وي، مونږه به د هغه سره ښنګه سلوك کوو؟ په دې تَعَلُّق سره د سورۀ حُجُرات نه د شپږو مدني ګلونو يو ښکلې ګلدسته وړاندې کيږي.

راځئ! د قرآنِ کريم عطا کړے شوي شپږ مدني ګلونه اورو او د نن نه هغه د خپل کردار حِصّې جوړولو کوشش کوو!اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم!

## (1) چا پسې ټوقې (ملنډې) مه کوئ....!!

اللّٰه پاك په 26 سيپاره، سورۀ حُجُرات 11 نمبر آيت کښې ارشاد فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّنْ قَوْمٍ عَسٰۤى اَنْ يَّكُوْنُوْا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَ لَا نِسَآءٌ مِّنْ نِّسَآءٍ عَسٰۤى اَنْ يَّكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ ۚ

(پاره:26،سورۀ حجرات:11)

[مفهوم] ترجمۀ کَنزُالايمان: اے اِيمان والؤ نه دې نارينه په نارينؤ پورې خاندې نِزدې ده چې هغوئي به د خنديدونکو نه بهتر وي او نه دې زنانه په زنانؤ پورې [خاندې] لرې نه ده چې هغوئي به د دې خنديدونکو زنانؤ نه بهترې وي.

د مسلمان په عِزَّت او تعظيم كښې دي چې په هيڅ شان سره په هغه پورې توقې اونڪړے شي، د آيتِ كريمه په دې حِصَّه كښې د دې خبرے تعظيم وركړے شوے دے چې يو نارينه دې بل نارينه پورې او يوه ښځه دې په بلې ښځې پورې ټوقې اونڪړي.

د هر يو خپل شوق وي، د ژوند تيرولو ئې خپل انداز وي، مونږه د چا په انداز باندې تنقيد نه شو كولے، مونږه د چا په جامو او د چا په لائف سټائل [يعني ژوند تيرولو انداز] باندې تنقيد نه شو كولے، تر دې پورې كه يو كس ګنهګار دے نو هغه ته دې په ښه ښكلي انداز د نيكئ دعوت وركړے شي خو په هغه پورې ټوقې كول هيڅ كله ټيك خبره نه ده.

نن سبا زمونږ په مُعاشره كښې دا وبا ډيره عامه ده ❀ كه چا ګيره مباركه پريښوده نو په هغه باندې تنقيد ❀ كه څوك عمامه شريفه په سر كړي نو تنقيد ❀ كه څوك د نيمو پنډو پورې د سُنَّت مطابق لباس اغوندي نو په هغه باندې تنقيد ❀ د بے وسه غريب په جامو پورې ټوقې كوي ❀ د نورو پيښې كوي او د هغوئې په انداز پورې توقې كوي ❀ تر دې پورې چې بعضې نادانه د قُدرت جوړ كړے شوو څيزونو پورې ټوقې كوي او بالكل نه شرميږي ❀ د چا سترګه كږه ده نو هغه ته كوږ سترګے وائي او ور پورې خاندې ❀ د چا پوزه اوږده ده نو د هغه په پوزه پورې ټوقې كوي

✿د چا شوندېـے غټې وي نو د هغه په شونډو پورې خاندې ✿ د چا ښپه لړ کار نه کوي [یعني ښپه په زمکه صحیح نه شي لګولے] نو هغه ته ګوَډ وائي او د مخامخ ګس په غزتِ نفس پورې خندا کوي.

## د ټوقو کولو عذابونه

آه! زمونږه بے احتیاطـئ، آه! دا غفلت...! د خوږ آقا، مکي مدَني مصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد مبارك دے: لَا تُمَارِ أَخَاكَ وَلَا تُمَازِحْهُ د خپل ورور سره جګړه مه کوئ، مه ور پورې خاندئ.[1]

په یو حدیثِ پاك کښې دي: بے شکه په خلقو پورې خندا کوونکو د پاره به د جَنَّت دروازه بیرته کړے شي، بیا به دوئي را اوبللے شي: راځئ! نِزدې راځئ...! کله چې جَنَّت ته نِزدې شي نو دروازه به بنده کړے شي، دغه شان به بیا بیا کولے شي.[2]

آه! هغه ناپوهه خلق کوم چې د نورو د عِزَّت خیال نه ساتي، ټوقې ور پورې کوي، د نورو ذلیله کولو سره خاندې او خوشحالیږي، هغوئي دې بیا بیا دا روایت اولولي، په دې دِ غور اوکړي، لږ سوچ دې اوکړي....! هغه د قیامت 50 زره کاله ورځ، د تانبے (اوسپنې) سره شوې زمکه، اور



[1]...ترمذی، کتاب البر والصلة، صفحه:484، حدیث:1995۔
[2]...شُعب الایمان، باب تحریم اعراض الناس، جلد:5، صفحه:311، حدیث:6757۔

www.dawateislami.net

ورورونڪے لمَر، هر طرفته د نَفسي نَفسي عالَم، په دې صورت کښې چې خوك جنَّت طرفته را اوبللے شي، د هغه زړه به څومره خوشحاله شي، هغه به په خپل قِسمَت باندې فخر کوي، په څومره اُمِّید سره به جنَّت طرفته په منډه ځي خو آه ...! څنګه چې جنَّت ته نِزدې شي، دروازه به بنده کړے شي، لږ تَصَوُّر اوکړئ! هغه وخت به څومره پښیمانتیا وي، د اُمِّیدونو ټولے رنړاګانے به یك دَم مړے شي، د خوشحالئ کولو سره به زړه مات شي. آه! دا افسوس او پښیمانتیا به د چا د پاره وي ...؟ دا به د هُغه بدنصیبه د پاره وي چا چې په دُنیا کښې په نورو پورې ټوقې کولے، د قیامت په ورځ به هغه ته د خپلو بدو کارونو بدله ورکړے شي.

بھائیوں کا دل دُکھانا چھوڑ دو | اور تمسخر بھی اُڑانا چھوڑ دو

**مفهوم**: د ورونړو زړونه مه خفه کوئ او مه ور پورې ټوقې کوئ

## د ټوقو مسخرو (ملنډو) شرعي حکم

اے عاشِقانِ رسول! که د دُنیا په هر کوَټ کښې اوسیدونڪے مسلمان وي، په مونږه باندې لازم دي چې مونږه هیڅکله په هغه پورې خندا اونڪړو. حضرت عَلَّامه عبدُ المُصطفٰی اعظمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: د

اِهانَت او سپك والي د پاره په ژبه يا اشارو يا بلې يوې طريقے سره په مسلمان پورې خندا کول حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے.[1]

## (2) چا له پيغور مه ورکوئ...!

د اجتماعي ژوند آدابو دويم مدني ګُل بيانولو سره الله پاك فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَلَا تَلْمِزُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ﴿۱۱﴾ (پاره:26،سورۀ حجرات:11) | [مفهوم]ترجمۀ کَنزُالايمان: او په خپل مينځ کښې پيغور مه ورکوئ. |

په تفسير صِراطُ الجِنان کښې دي: يعني په ژبه يا د اشارې په ذريعه په يو بل باندې عيب مه لګوئ، ځکه چې مُومِن د يو ځان په شان دے، کله چې په يو مُومِن باندې عيب اولګولے شي نو لکه چې په خپل ځان باندې عيب اولګولے شي.[2]

آه! اوس په مونږه کښې نورو له د پيغور ورکولو وَبا ډير عامه شوې ده ✿ که څوك په سُنَّتو عمل اوکړي ✿ خپله ناسته پاسته✿ تګ راتګ ✿ اغوستل وغيره د سُنَّتو مطابق کړي نو هغه له پيغورونه ورکړے کيږي ✿ غريب له د هغه په غريبئ پيغور ورکړے کيږي✿ کله د چا ذات کمتر



[1]...جهنم کے خطرات، صفحه:173۔

[2]...تفسير صراط الجنان، پاره:26، سورۀ حجرات، تحت الآية:11، جلد:9، صفحه:430بتغير قليل۔

www.dawateislami.net

ګنړلو سره هغه ته د ذات په وجه پيغور ورکړے کيږي (حالانکه يو ذات ذليل يا کمتر نه دے، د عِزَّت معيار پرهيزګاري ده) ❀ که څوک مزدوري کوي نو هغه له د مزدورۍ پيغور ورکولے شي ❀ که څوک ګاډۍ لګوي نو هغه له د ګاډۍ پيغور ❀که د چا صرف لونړه وي، ځامن ئې نه وي (حالانکه لونړه د الله پاك رحمت دے، د دې باوُجود) نو هغه له پيغورونه ورکړے کيږي.

که د رشتو ورکړه راکړه وي يا الله دې نه کړي که د طلاق وغيره مُعامَله وي، نو بيا خو شيطان ښه لوبول کوي او د ډيرو پيغورونو او طعنو په آفت کښې اخته کول کوي.

## د پيغور او طعن په غندنه کښې دوه احاديث

کاش! مونږه د الله او رسول (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) تعليمات په رښتيني زړه سره قبول کړو....!! **(1)** د حضرت ابودرداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، د الله پاك آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: ډير لعنت کوونکي، ډير پيغورونه ورکوونکي به د آخرت په ورځ نه ګواه وي، نه شفاعت کوونکي.[1]



[1]...ترمذی، کتاب البر والصلة، صفحه:481، حديث:1977۔

www.dawateislami.net

**حكيمُ الاُمَّت** حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاك په شرح كښې فرمائي: د خوږ نبــي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّتيان به د قيامت په ورځ د تير شوو انبيائے كرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام ګواه هم وي (يعني دا ګواهي به وركړي) چې هغوئي عَلَيْهِمُ السَّلَام خپلو اُمَّتيانو ته تبليغ كړے وو او د ګنهګارانو شفاعت كوونكي به هم وي خو چې كوم مسلمان د لعنت كولو او پيغور وركولو عادت لري، هغه به د دې دواړو نِعمتونو نه محرومه وي. ځكه په دُنيا كښې د لعن طعن عادت لرونكي مه جوړيږئ.[1]

**(2)** د حضرت عبدُ الله بِن مسعُود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې رسُولُ الله فرمائي: مُومِن نه پيغور وركوونكے وي، نه لعنت كوونكے وي، نه فُحش (يعني د بے حيائې) خبرے كوونكے وي.[2]

د فُحش خبرې معنٰى دا ده: **التَّعْبِيرُ عَنِ الْأُمُورِ الْمُسْتَقْبَحَةِ بِالْعِبَارَاتِ الصَّرِيحَةِ** يعني د شرمناكو اُمورو (مثلاً ګنده او ناكاره خبرو) په ښكاره الفاظو كښې ذِكر كول.[3]

د دې حديثِ پاك په شرح كښې مفتــي صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: دا

323

[1] ...مرآة المناجيح، جلد:6، صفحه:451 بتغير قليل۔

[2] ...ترمذی، كتاب البر والصلة، صفحه:481، حديث:1977۔

[3] ...احياء علوم الدين، كتاب آفات اللسان، جلد:3، صفحه:122۔

عیبونه (یعني پیغور ورکول، لعنت کول او بے حیا خبرې کول، دا) په رښتینې مسلمان کښې نه وي، خپلو عیبونو ته نه کتل، د نورو مسلمانانو عیبونه لټول، په هر یو لعن طعن کول د اسلامي شان خلاف دي. بعضې خلق ښاروو، هوا ته کنځلې کوي، بعضې خلق کنځلې اوّل کوي، خبرې وروسته کوي، دا ټول دې د دې حدیثِ پاك نه عبرت واخلي.[1]

## (3) په یو بل بد نومونه مه ږدئ...!

د اجتماعي ژوند آدابو دریم ادب قرآنِ کریم دا بیان کړے دے:

| | |
|---|---|
| وَلَا تَنَابَزُوْا بِالْاَلْقَابِ ؕ (پاره:26،سورهٔ حجرات:11) | [مفهوم]ترجمهٔ کَنزُالایمان: او په یو بل بد نومونه مه کړدئ. |

صَدْرُ الاَفاضِل سید محمد نعیمُ الدِّین مراد آبادی رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د دې آیت لاندې لیکي: (یعني هغه نومونه) کوم چې بد معلومیږي (په هغې نومونو سره مه رابلئ!) لکه چاته ډینګ! خیټو! تور وغیره وئیل او رابلل.[2]

## په بدو نومونو سره د رابللو حکم

افسوس! زمونږ په معاشره کښې دا عام دي چې د سړي اصلي نوم ښه



[1]...مرآۃ المناجیح، جلد:6، صفحه:469بتغیر قلیل۔
[2]...خزائن العرفان، پاره:26، سورهٔ حجرات، تحت الآیة:11، صفحه:950۔

www.dawateislami.net

وي بيا معلومه نه ده چې خلق ولے په نورو بدو نومونو سره را بلي. د چا چې کوم نوم وي، په هغې نوم سره رابلل پکار دي، د خپل طرف نه اُلټا نوم مثلاً ډنګ قديا، چِت قديا وغيره مه ږدئ، عام طور داسې نومونو سره د مخامخ کس زړه خفه کيږي. او هغه په دې غُصَّه کيږي هم، د دې باوُجود رابلونکے په قصد بار بار د مزے اخستلو د پاره هغه اُلټا نوم اخلي او رابلي ئې. اعلٰی حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت مولانا شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يو مسلمان بلکه کافِر ذِمِّي هم د شرعي اجازت نه بغير داسې الفاظو سره رابلل چې د هغه زړه خفه شي، هغه ته تکليف اُورسي، [داسې کول] شرعًا ناجائز او حرام دي، اګر چې خبره پخپله رښتينې وي.[1]

مثلاً د چا رنګ واقعي تور دے، د دې باوجود هغه ته تورے وئيل او رابلل د هغه زړه خفه کوي نو داسې رابلل به ناجائزه او حرام وي.

## په اُلټا نومونو سره د رابللو غندنه

حضرت عُمَير بِن سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بيانوي چې سَيِّدُ الانبياء حضرت محمد مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: چا چې يو کس د هغه د نوم نه علاوه

323

[1]...فتاوٰی رضويه، جلد:23، صفحه:204۔

نوم (یعني په بد لقب سره) را اوبللو، په هغه باندې فرښتې لعنت وائي.[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## (4) بدګماني مه کوئ...!

د اجتماعي ژوند آدابو څلورم ادب قرآنِ کریم دا بیان کړے دے:

| | |
|---|---|
| یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اجْتَنِبُوْا كَثِیْرًا مِّنَ الظَّنِّ٘ اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ اِثْمٌ (پاره:26،سورۂ حجرات:12) | [مفهوم] ترجمۂ کَنْزُ الایمان: اے اِیمان والؤ د ډیرو ګمانونو نه بچ شئ بے شکه بعضې ګمان ګناه کیږي. |

په تفسیر صِراطُ الجنان کښې دي: د آیت په دې حِصّه کښې الله پاك مسلمانان د ډیرو ګمانونو نه منع کړي دي ځکه چې بعضې ګمانونه داسې دي چې صرف ګناه ده، ځکه احتیاط په دې کښې دے چې د ډیرو ګمانونو نه دې ځان بچ اوساتلے شي.[2]

## د ګمان درې قسمونه

علمائے کرام فرمائي:ګمان (یعني زمونږ په زړه کښې راتلونکي خیالات د شرعي حکم په اعتبار سره) درې قسمه دي: **(1) واجب**: لکه په الله پاك



[1]...جامع صغیر، صفحه:525، حدیث:8666۔

[2]...تفسیر صراط الجنان، پاره:26، سورۂ حجرات، تحت الآیة:12، جلد:9، صفحه:433 ۔

www.dawateislami.net

ښه ګمان کول **(2)** **مُستَحَب**: لکه په نيك مسلمان ښه ګمان کول **(3)** **ممنوع او حرام**: لکه په الله پاك بد ګمان کول، دغه شان د مسلمان د پاره بدګماني کول چې دا حرام دي.[1]

## بد ګماني دروغ ده

د حضرت ابُوهُريره رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې د الله پاك خوږ حبيب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: خپل ځان د بدګمانئ نه بچ کړئ چې بدګماني بدترين دروغ دي.[2]

## د بد ګمانئ ديني او دُنياوي نُقصانونه

په تفسير صِراطُ الجنان کښې دي: **(1)** د چا په باره کښې چې مو بدګماني اوکړه، که د هغه په مخکښې مو د دې اِظهار اوکړو نو د هغه زړه خفه کيدے شي او د شرعي اجازت نه بغير د مسلمان زړه خفه کول حرام دي **(2)** که د مسلمان مخے ته مو د هغه مُتَعَلِّق بدګماني ښکاره نه کړه، بلکه د هغه په غير موجودګئ کښې مو ښکاره کړه نو دا غيبَت شو او د مسلمان غيبَت کول هم حرام دي **(3)** بدګمان کوونکے صرف په خپل



[1]…تفسير صراط الجنان، جلد:9، صفحه:433 بتغير قليل۔

[2]…مسلم، كتاب البر والصلة، صفحه:994، حديث:2563۔

www.dawateislami.net

ګمان صبر نه کوي بلکه هغه د مخامخ کس په عيبونو لټولو کښې مصروفه کيږي او د يو مسلمان عيب لټول هم ګناه ده **(4)** د بدګمانئ د هلاکت نه دا هم دي چې د بدګمانئ کولو سره د بغض او حسد په شان خطرناك باطني مرضونه پيدا کيږي **(5)** د بدګمانئ کولو سره د دوو [مسلمانانو] ورونړو دُښمني پيدا کيږي، خواښې او اينګور د يو بل مخالف کيږي، د ښځې او خاوند په يو بل باندې اعتماد ختميږي، د بدګمانئ په وجه په خبره خبره خپل مينځ کښې جګړې کيږي او آخر کار بعضې وخت طلاق هم واقع کيږي. د بدګمانئ په وجه د ورور او خور په مينځ کښې تعلقات ختميږي او داسې د خوشحالئ او خندا نه ډك کور ورانيږي **(6)** د نورو د پاره بدو خيالونو ساتلو والا خلقو ته د فالج او د زړه مرضونو خطره زياتيږي ځنګه چې په موجوده وخت کښې يو رپورټ کښې ښکاره شوي دي چې هغه خلق کوم چې د نورو د پاره مخالف سوچونه لري او د هغې په وجه په ذِهني دباؤ کښې راځي او په غُصَّه کښې اوسي، په هغوئي کښې د زړه د مرضونو او د فالج خطره 86 فيصده زياتيږي.[1] الله پاك دې مونږه د بدګمانئ د آفت نه محفوظ کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

323

[1]…تفسير صراط الجنان، جلد:9، صفحه:435 تا436 بتغير قليل۔

## (5) د چا عیب مه لټوئ....!

د اجتماعي ژوند د آدابو پینځم ادب دا دے:

| | |
|---|---|
| وَ لَا تَجَسَّسُوْا (پاره:26،سورۂ حجرات:12) | [مفهوم] ترجمۂ کَنْزُالعرفان: او (د پټو خبرو) لټون مه کوئ. |

## تَجَسُّس څه ته وائي؟

د خلقو د پټو خبرو او عیبونو نه ځان خبرولو کوشش کولو ته تَجَسُّس وائي.[1] ❁ د مثال په طور د چا نه تپوس کول: د شپے ناوخته پورې ویخ پاتې کیږې، د سحر لمُونځ کوے او که نه؟ ❁ چا نوکر نیولے دے، د هغه نه تپوس کول: ستا نوے نوکر کار صحیح کوي او که نه؟ دا هم بے اجازتِ شرعي تپوس کول عیب لټول دي او د دې سوال په جواب کښې پوره خطره ده چې د چا نه ئې تپوس کړے دے هغه د نوکر په باره کښې دا اووائي چې د کار نه ځان پټوي، حرام خور دے وغیره داسې وینا اوکړې نو ګنهګار به شي ❁ دغه شان بے اجازتِ شرعي د چا عیب معلومولو د پاره په هغه پسے کیدل، د هغه په کور کښې کتل وغیره دا هم په تَجَسُّس کښې داخل دے.



[1]...حدیقه ندیه، الخلق الرابع والعشرون، جلد:3، صفحه:160۔

www.dawateislami.net

## د تَجَسُّس مُتَعَلِّق دوه حکمونه

**(1)** د مسلمان عيب جوئي كول (يعني د هغه عيبونه لټول) حرام دي **(2)** كه د نوكر ساتلو يا چرته د واده كولو اراده وي نو د ضرورت مطابق معلومات كول ګناه نه ده.[1]

## د مسلمانانو د عيبونو لټولو غندنه

په حديثِ پاك كښې دي: خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: اے هغه خلقو چا چې په خپله ژبه خو راوړے دے خو ستاسو زړونو ته لا تر اوسه پورې اِيمان داخل نه شو! د مسلمانانو غِيبَت مه كوئ او مه د هغوئي عيبونه لټوئ ځكه چې څوک د خپل مسلمان ورور عيب اولټوي، الله پاك به د هغه عيبونه ښكاره كړي، او الله پاك چې د چا عيبونه ښكاره كړي نو هغه رُسوا كوي اګر چې هغه په خپل كور كښې دننه (پټ ناست) وي.[2]

اے عاشِقانِ رسول! د دې نه معلومه شوه چې د مسلمان غِيبَت كول او د هغه عيبونه لټول د منافِقانو كار دے، دا هم معلومه شوه چې د نورو د عيبونو لټولو انجام ذِلَّت او رُسوائي ده، كوم كس چې د نورو عيبونه لټوي،



[1] …گناہوں کے عذابات، حصہ:1، صفحہ:32۔

[2] …ابو داؤد، کتاب الادب، باب فی الغیبۃ، صفحہ:765، حدیث:4880۔

www.dawateislami.net

يقيناً په هغه کښې به هم څه نه څه عيب خامخا وي او کيدے شي چې هغه عيب داسې وي چې د ښکاره کيدو سره به هغه په مُعاشره کښې ذليل او خوار شي. څکه عيب لټونکو ته د دې خبرے نه ويريدل پکار دي چې د دوئي د دې حرکت په وجه چرته الله پاك د هغه پټ عيبونه ښکاره نکړي چې د هغې سره به ذليل او رُسوا شي.

## په عيبونو باندې پرده واچوئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! مونږ له پکار دي چې د شريعت په حدودو کښې اوسيدلو سره د نورو په عيبونو باندې پرده واچوو. د بُخاري شريف حديثِ پاك دے، رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: چا چې د يو مسلمان عيب پټ کړو، الله پاك به د آخرت په ورځ د هغه عيبونه پټ کړي.[1]

حضرت عبدُ الله بِن عبَّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُما فرمائي: کله چې ته د خپل ملګري عيب يادولو اراده اوکړې نو (هغه وخت) خپل عيبونه را ياد کړه.[2]

الله پاك دې مونږه د نورو د عيبونو لټولو نه د بچ کيدلو او د خپلو عيبونو لټولو او د هغې اصلاح کولو توفيق را عطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

323

[1]...بخاری، کتاب المظالم والغضب، صفحه:630، حديث:2442۔

[2]...شُعب الايمان، باب تحريم اعراض الناس، جلد:5، صفحه:311، حديث:6758۔

## (6) غیبَت مه کوئ....!

د اجتماعي ژوند د آدابو شپږم ادب دا دے چې د یو مسلمان وړور غیبَت دې اونکړے شي، الله پاك فرمائي:

وَلَا يَغۡتَبۡ بَّعۡضُكُمۡ بَعۡضًا ؕ (پاره:26،سورۂ حجرات:12)

[مفهوم] ترجمۂ کَنزالایمان: او د یو بل غیبت مه کوئ.

## غیبَت څه ته وائي؟

د چا په باره کښې د هغه په غیر موجودګئ کښې داسې خبره کول چې که هغه ئې واوري یا هغه ته اُورسي نو خوښه به ئې نه کړي. دې ته غیبت وائي.[1]

مثلاً یو کس د مجلس نه پاڅیدلو، د هغه په باره کښې داسې وئیل: ✿ دوستانو! هغه لاړو، خلاص شو ترې ✿ نیم هوښیار دے ✿ په خبره خبره به ئې ها ها کولو او خندل به ئې. دغه شان د مُسْتَحَبَّاتو او نوافلو کښې سُستي کوونکي په باره کښې داسې وئیل:✿ هغه چرته په ژوند کښې د عاشورے روژه نه ده نیولې✿ هغه به اَوَّابین څه ادا کړي! د هغه



[1]...غیبت کی تباہ کاریاں، صفحہ:438۔

www.dawateislami.net

نه خو دا تپوس اوکړئ چې نوافِل کله ادا کيږي ❁ هغه د تَبَرُّك په وجه نياز خوري خو د دې د پاره ئې کله هم چنده نه ده ورکړې.[1]

## د غيبَت په باره کښې احکام

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا هم د مسلمان د عِزَّت نه دي چې مونږه د هغه غيبت اونکړو، نه ئې واورو چې **(1)** غيبت ګناهِ کبيره، قطعي حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے **(2)** غيبت حلال ګڼړلو والا کافِر دے **(3)** غيبت کولو والا فاسِق ګنهګار او د عذابِ نار حق دار دے **(4)** بغير د شرعي مجبورئ نه غيبت اوريدلو والا هم د غيبت کوونکو په شان ګنهګار دے.[2]

## د غيبَت په غندنه کښې 4 حديثونه

**(1)** د آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: آيا تاسو ته پته ده چې غيبت څه خيز دے؟ صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان عرض اوکړو: اَللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗ اَعْلَم. الله او د هغه رسول ښه پوهيږي. خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: چې تاسو د خپل ورور هغه عيب بيان کړئ د کوم ذِکر چې هغه نه خوښوي. عرض اوکړے شو: د دې په باره



[1]...گناہوں کے عذابات، حصہ:1، صفحہ:27۔
[2]...گناہوں کے عذابات، حصہ:1، صفحہ:27۔

www.dawateislami.net

کښې ستاسو څه رائے ده که زما په وررور کښې هغه عیب موجود وي کوم چې زه بیانووم. ارشاد ئې اوفرمائیلو: تاسو چې کوم عیب بیانوئ که هغه پکښې موجود وي نو بیا خو هغه غیبت دے او که هغه عیب پکښې نه وي نو بیا بُهتان دے.[1] **(2)** خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: غیبت د زِنا نه زیات سخت خیز دے. خلقو عرض اوکړو: يَا رَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! غیبت د زِنا نه زیات سخت څنګه دے؟ ارشاد ئې اوفرمائیلو: سړے زِنا کوي، بیا توبه کوي نو الله پاك د هغه توبه قبلوي او د غیبت کوونکي بخښنه تر هغه وخته پورې نه کیږي تر څو پورې چې هغه مُعاف کړے نه وي د چا ئې چې غیبت کړے دے.[2] **(3)** صاحِبِ معراج، اِمامُ الانبیاء صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: کله چې ماته معراج اوکړے شو نو زه داسې خلقو په خوا تیریدم د کومو چې نوکان د پیتلو وو او په هغې سره به ئې خپل مخونه او سینے راشوکولے، ما تپوس اوکړو: اے جبریل عَلَيْهِ السَّلَام! دا کوم خلق دي؟ هغوئي عرض اوکړو: دا هغه خلق دي کومو به چې د خلقو غوښے خوړلې او د هغوئي عِزَّتونه به ئې بربادول.[3] **(4)** خوږ آقا ارشاد فرمائي: چا چې په دُنیا کښې د خپل وررور غوښه اوخوړله، د قیامت په ورځ به هغه له د هغه د وررور غوښه راوړے شي او ورته به اوولیے شي څنګه به چې



[1] ...مسلم، کتاب البر والصلة، صفحه:1002، حدیث:2589۔

[2] ...شُعب الایمان، باب تحریم اعراض الناس، جلد:5، صفحه:306، حدیث:6741۔

[3] ...ابو داؤد، کتاب الادب، صفحه:765، حدیث:4878۔

www.dawateislami.net

تا په دُنيا کښې د خپل مړ وړور غوښه خوړله اوس د ژوندي غوښه اوخوره، هغه به چغے وهي او خُله به ورانه ورانه کوي او خوري به ئې.[1]

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د غيبت، بدګمانئ، جاسوسئ او د مسلمانانو زړه ازارولو وغيره ډيرو ګناهونو په باره کښې تفصيلي معلوماتو د پاره د شيخِ طريقَت، اَميرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ کتاب د "**غيبت تباه کارئ**" (په دې کتاب کښې به تاسو اوپيژنئ د غيبت 1800 مثالونه، د غيبت کوونکي نه د ځان خلاصولو طريقه، د غيبت جائز صورتونه، د غيبت نه د بچ کيدو عجيبه طريقه، د غيبت په باره کښې سوال او جواب او د دې نه علاوه د غيبت په باره کښې ډير معلومات) او رساله **احتِرامِ مُسلِم** اولولئ! دغه شان د مکتبةُ الْمَدينه کتابونه **(1)** تکليف نہ ديجئے **(2)** گناہوں کے عذابات **(3)** بدگمانی **(4)** اور جہنّم ميں لے جانے والے اَعْمَال هم واخلئ! اولولئ ئې او د علمِ دِين خزانه حاصله کړئ!

## د اِسلامِك اِی بُك لائبريري تعارف

تاسو دا کتابونه د **اِسلامِك اِی بُك لائبريري** نه مفت ډاؤن لوډ کولے شئ. **اِسلامِك اِی بُك لائبريري** يو موبائل ايپلي کيشن دے کوم چې په اينډ رائيډ او ***IOS*** دواړه قسمه ډيوائس د پاره موجود دے. په دې ايپلي کيشن

323

[1]...معجم الاوسط، جلد:1، صفحه:450، حديث:1656۔

کښېي اسلامي کتابونه په مختلفو ژبو کښېي موجود دي، که يو کتاب لوستل ورته ګران وي نو داسې خلق د آډيو بُك لائبريري په ذريعه د کتابونو اوريدلو سره هم د علم دين نه فائده حاصلولے شي، د دې ايپلي کيشن: ***Islamic Ebook Library*** **(اسلامِک اِی بُک لائبریری)** په ذريعه د مکتبةُ المَدينه نه چاپ شوي کتابونه مفت ډاؤن لوډ کولے شئ. دا ايپلي کيشن په خپل موبائل کښېي انسټال کړئ، پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ.

## د نورو د عِزَّتونو مُحافِظ جوړ شئ!

اے عاشِقانِ رسول! مونږه مسلمانان يو او اسلام مونږه د نورو د عِزَّت محافظ جوړ کړي يو، په دې وجه خو به مونږه د نورو عِزَّت په هر حال کښېي کوو، او د دې سره سره د نورو د عِزَّت خوکئ به هم کوو. ❁ مثلاً يو کس زمونږ د يو مسلمان ورور غيبت کوي، اوس په مونږه باندې لازم دي چې هغه د غيبَت نه منع کړو ❁ که منع کولے ئې نه شو نو د هغه ځائ نه پاځو ❁ دغه شان که څوك زمونږ په مسلمان ورور پسې خندا کوي، هغه ته پيغور ورکوي، د هغه عيبونه ښکاره کوي نو څومره چې کيدے شي مونږ له پکار دي چې په حکمتِ عملئ سره د خپل مسلمان ورور د عِزَّت حفاظت اوکړو او ثواب اوګټو. د حضرت ابو درداء رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت

دے چې خوږ آقا مكي مدني مصطفٰى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: كوم كس چې د خپل مسلمان وړور د عِزَّت حفاظت كوي الله پاك به د قيامت په ورځ د دوزخ نه د هغه حفاظت اوفرمائي.[1]

## د مسلمان د عِزَّت كولو نبوي انداز

اے عاشِقانِ رسول! راځئ! په آخر كښې د خپل خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو څو خوږې خوږې ادا ګانے اوروو، د خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا خوږې ادا ګانے هم د مسلمانانو د عِزَّت كولو د پاره زمونږه راهنما دي.

✿ زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هر وخت د خپلے ژبے مباركې حفاظت كولو او صرف د كار خبره به ئې كوله ✿ راتلونكو سره به ئې محبت كولو، داسې خبره يا كار به ئې نه كولو چې ناخوښي پيدا شي ✿ د قوم د مُعَزَّز كس به ئې خيال ساتلو او هغه به ئې د قوم سردار مقرر كولو ✿ د صحابهٔ كرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان خبر به ئې اخستو او د خلقو د ښو خبرو به ئې ښه والے بيانولو او هغې ته به ئې تقويت وركولو، بد څيز ته به ئې بد وئيلو او په هغې باندې به ئې د عمل كولو نه منع كوله ✿ په هره مُعامَله كښې به ئې اعتدال كولو (يعني د ميانه روئ نه به ئې كار اخستلو) ✿ د

323

[1] …شرح السنه، كتاب البر والصلة، باب الذب عن المسلمين، جلد:7، صفحه:346، حديث:3528۔

خلقو اصلاح به ئې كوله ❀ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به ناسته پاسته كښې (يعني هر وخت) د الله پاك ذِكر كولو ❀ كه چرته به ئې تشريف يوړلو نو چرته به چې ځائ ميلاؤ شو هم هلته به ئې تشريف كېښودلو او نورو ته به ئې هم د دې تلقين كولو ❀ د ټولو د حقوقو خيال به ئې ساتلو ❀ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت كښې حاضريدونكي هر يو كس به دا محسوسوله چې سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما د ټولو نه زيات خوښوي ❀ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د حاضريدونكو سره تر هٰغه وخته پورې تشريف فرما وو تر څو به چې هغوئې پخپله نه وو تلي ❀ چې كله به ئې د چا سره مُصافَحه كوله (يعني لاس ميلاوهلو) نو خپلو لاسونو راښكودلو كښې به ئې وړاندې والے نه كولو ❀ سوال كوونكي ته به ئې وركول❀ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سخاوت او خوش اخلاقي د ټولو د پاره عامه وه ❀ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مجلس مبارك د علم، بُردبارئ، حياء، صبر او امانت مجلس وو ❀ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مجلس مبارك كښې به نه شور او زوَږ وو نه به د چا بے عِزَّتي كيدله ❀ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مجلس مبارك كښې به چې د چا نه څه غلطي اوشوه نو هغه به نه خوريدله ❀ كله به چې چاته مُتَوَجِّه كيدلو نو مكمله تَوَجُّه به ئې فرمائيله ❀ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د چا مخ ته سيدها نه كتل

❁ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پيغلې بې واده جينئ نه هم زيات حياداره وو ❁ په سلام کښې به ئې وړاندې کيدلو ❁ ماشومانو ته به ئې هم سلام کولو ❁ چا به چې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته څه عرض اوکړو نو خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په جواب کښې **لَبَّيک** (زه حاضر يم) فرمائيلو ❁ د مجلس خلقو طرفته به ئې ښپې مبارکې نه غزولے❁ اکثر به مخ په قبله تشريف فرما کيدلو❁ د خپل ذات د پاره ئې د چا نه بدله نه اخستله ❁ د بدئ بدله به ئې په بدئ نه اخستله بلکه مُعاف کولو به ئې ❁ د الله په لاره کښې د جهاد نه سِوا ئې څوک په خپلو لاسو مبارکو نه دے وهلے، نه يو غلام نه يوه زنانه (يعني بي بي وغيره) وهلې ده ❁ په خبرو کښې به ئې نرمي وه، خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: د الله پاك په نِزد د ټولو نه ناکاره هغه دے کوم چې د هغه د بدو خبرو په وجه خلق پريږدي ❁ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې کله کلام فرمائيلو نو (دومره په قلاره قلاره به ئې خبرے کولې چې) الفاظ شميرلو والا به الفاظ شميرلے شو ❁ په طبيعت کښې ئې نرمي وه او خوشحاله به اوسيدلو ❁ سختې خبرے به ئې نه کولې ❁ په چا به ئې عيب نه لګولو ❁ بُخل به ئې نه کولو ❁ د چا عيب به ئې نه لټولو صرف هغه خبره به ئې کوله کومه چې به (د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په حق کښې) د ثواب سبب وه ❁ د مسافِر يا نا اشنا انسان د سختو خبرو نه

په ډك سوال باندې به ئې صبر فرمائيلو ❁ د چا خبره به ئې نه ماتوله البته كه څوك به د حد نه وتلو نو هغه به ئې منع كولو يا به د هغه ځائ نه پاڅيدلو ❁ د سادګئ دا حالت وو چې د خپلے ناستې د پاره ئې څه مخصوص ځائ مقرر نه وو ❁ كله به په پوزَكي [چټائې] باندې او كله به ئې په زمكه آرام فرمائيلو ❁ كله ئې هم په ټق ټق نه دې خندلې (يعني په دومره آواز سره خندل چې نور خلق ئې واورې) ❁ صحابهٔ كرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوان فرمائي: خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو نه زيات مُسكا كوونكے وو (يعني د موقعې په مناسبت سره) حضرت عبدُ الله بِن حارث رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې ما د رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه زيات مُسكا والا بل څوك نه دے ليدلے.[1]

يا الٰہی! جب بہیں آنکھیں حساب جرم میں | اُن تبسم ریز ہونٹوں کی دعا کا ساتھ ہو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار: مدني قافِله

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! با اخلاقه او باكرداره، نيك او ښه مسلمان جوړيدلو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريك دعوتِ اسلامي ديني



[1]...احترام مسلم، صفحه:27تا30۔

ماحول سره وابسته شئ، د ذيلي حلقے 12 ديني کارونو کښې په اخلاص سره حِصَّه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم! په ژوند کښې به مو سپرلي راشي، کردار به مو ښکلے او ښائسته شي او د دين او دُنيا بے شميره نيکئ به حاصلې کړئ. د ذيلي حلقے 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: **مدني قافِله** ده. راځئ! د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے اورو:

## د نشے بد عادت ئې ختم شو

د جيکب آباد سندهـ علاقے سره د تَعَلُّق لرونکے اسلامي ورور بيان څه داسې دے: اوَّل زما غلط عقائد وو او په اخلاقي بدو کښې اخته ووم، هره ورځ د شپے اَتَو بجو نه تر دولسو بجو پورې به مې بهنګ، چرس او د شرابو وغيره نشه کوله، بيا به د نشے په حالت کښې کور ته را رسيدم او په بستره به په نشه کښې اوده کيدم. زما مور به چې زما حالت ليدلو نو ژړل به ئې او زه به ئې پوهه کولم، خو په ما به څه اثر نه کيدلو، بيا غالبًا په 2010ء کښې زمونږ په علاقه کښې سيلاب راغے نو مونږه يو محفوظ ځائ ته لاړو. هلته زه سخت بيمار شوم، زما خوش نصيبي وه چې په دې دوران کښې زما ملاقات د دعوتِ اسلامي سره وابسته يو اسلامي ورور سره اوشو، چې د هغه د انفِرادي کوشش په نتيجه کښې په ژوند کښې په ورومبي ځل ماته په مدني قافله کښې د سفر کولو سعادت نصيب شو.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د مدني قافلے په برکت ماته د بدعقیدګئ او د نشے بد عادت نه د توبه کولو توفیق هم نصیب شو، د دې لیك ورکولو وخت کښې زه په جامعةُ المَدینه کښې د دویمے درجے طالبِ علم یم.[1]

اچّھی نیّت کا پھل پاؤ گے بے بدل | سب کرو نیّتیں قافلے میں چلو
دُور بیماریاں اور ناداریاں ہوں | ٹلیں مشکلیں قافلے میں چلو

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د سلام کولو سنت او آداب

مسلمان سره د ملاقات په وخت سلام کول سنت دي- (اسلامي خوئیندې دې هم اسلامي خوئیندو او محارِمو ته سلام کوي)

”د سلام کولو په وخت دې دا نیت وي چې چاته سلام کووم د هغه مال او عزت هر څه زما په حفاظت کښې دي او زه دې کښې هر څیز کښې مداخلت کول حرام ګنړم“(2)

ورځ کښې چې څو ځل هم میلاویږئ، یوې کمرې وغیره ته بیا بیا تګ وي هلته موجودو مسلمانانو ته سلام کول د ثواب کار دے-

سلام کښې پهل (یعني اول سلام) کول سنت دي-



[1] ...بد شگونی، صفحہ:112۔

[2] ... بہار شریعت ،459/3 بالتصرف

www.dawateislami.net

سلام کښې پهل (يعني اول سلام) کوونکے د الله پاک مُقَرَّب (يعني الله ته نزدې بنده) دے-

سلام کښې پهل (يعني اول سلام) کوونکے د تکبر نه هم بَري (يعني آزاد) دے-(۱)

(1) څنګه چې زما د مکي مَدَني آقا، خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: په اول سلام کوونکي 90 رحمتونه او په جواب ورکونکي 10 رحمتونه نازليږي-(2)

اَلسَّلامُ عَلَيْكُمْ (يعني په تا دې سلامتيا وي) وئيلو سره 10 نيکئ ميلاويږي- ورسره وَرَحْمَةُ اللهِ (او د الله پاک رحمت وي) هم اووائي نو 20 نيکئ به شي- او "وَبَرَكَاتُهُ" (او د هغه برکتونه وي) شامل کړي نو 30 نيکئ به شي- بعضې خلق د سلام سره د "جنَّتُ المقام او دوزخ الحرام" الفاظ هم وائي کومه چې غلطه طريقه ده او دا جمله لغةً هم غلطه ده- بعضې ناپوهه خو مَعَاذَ الله په توقو کښې تر دې پورې وائي: "ستا بچې زمونږ غلامان-" امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په "فتاوٰی رضويه" جلد22 صفحه 409 فرمائي: کم از کم اَلسَّلامُ عَلَيْكُمْ او د دې نه غوره وَرَحْمَةُ اللهِ ورسره وئيل او د ټولو نه غوره وَبَرَكَاتُهٗ شاملول او د



1 ... شعب الايمان، 433/6، حديث:8786

2 ... کيمياۓ سعادت، 394/1

www.dawateislami.net

دې نه زيات څه نشته- هغه (يعني سلام کوونکي) که اَلسَّلامُ عَلَيْكُمْ اوئيل نو دے دې جواب کښې وَعَلَيْكُمُ السَّلامُ وَ رَحْمَةُ الله اووائي- او که چرې هغه اَلسَّلامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ الله اوئيل نو دا دې وَعَلَيْكُمُ السَّلامُ وَ رَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ اووائي او که چرې هغه د وَبَرَكَاتُهُ پورې اوئيل نو دا دې هم دومره اووائي او د دې نه زيات دې نه وائي- وَاللهُ تَعالٰى اَعْلَمُ

دغه شان جواب کښې د وَعَلَيْكُمُ السَّلامُ وَ رَحْمَةُاللهِ وَبَرَكَاتُهُ وئيلو سره 30 نيکئ حاصيليدے شي-

د سلام جواب سمدستي او په دومره آواز کښې جواب ورکول واجب دي چې سلام کوونکے ئې واوري-

د سلام او د سلام د جواب صحيح تلفُّظ ياد کړئ- اول ئې زه وايم او تاسو ئې واورئ او بيا ئې اووائيئ: اَلسَّلامُ عَلَيْكُمْ (اَسْ- سَلا-مُ- عَلَيْ- كُمْ) اوس زه اول جواب وايم بيا ئې تاسو اووائيئ: وَعَلَيْكُمُ السَّلام(وَ-عَ-لَيکُ-مُسْ- سَلام)-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

رضائے حق کیلئے تم سلام عام کرو | سلامتی کے طلب گار ہو سلام کرو

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د بهارِ شريعت جلد: دريم نه شپاړسمې حصې او د شيخ طريقت، امير اهلسنت حجرت علامه

مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 مخونو رساله 550 سنت او آداب واخلئ او اوئي لولئ- د سنت زده کولو یوه ذریعه د دعوتِ اسلامي قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-